لیکوال: شریف بهاند
اکتوبر ۲۰۰۷م

# د اُیرواسیا Eurasien د سیمې پر سر سیالي

لومړۍ برخه

څوک چې وکړی شي، د نل لیکو د نقشې د پلی کیدو په اړه تصمیم
ونیسي، هغه د نړۍ د یوې سترې برخې برخلیک ټاکلی شي.
(فریدریک ستار)

**سریزه:**

په نړیواله کچه د هیوادونو د اقتصادي ودې له امله طبیعي زیرمو یا په بله وینا اومه توکو ته، نه یوازې اړتیا مخ په زیاتیدو، بلکې د دا ډول توکو د زیات لګښت له امله د هغوي زیرمې مخ په خلاصیدو او بیه یې مخ په لوړیدو ده. په تیره په نړیوال ډګر کې نوي اقتصادي ځواکونه د بیلګې په توګه هند، چین او د سویلي اسیا داسې نور هیوادونه د خپلو مخ په ودې اقتصاد د تندې د ماتولو له پاره دا ډول توکو ته زیاته اړتیا او په نړیوالو بازارونو کې د هغو د پرودل لیوال دي. د همدې زیاتې غوښتنې (تقاضا) له امله، د اومه توکو د راکړې ورکړې په نړیوال بازار کې تشه (خلأ) د رامنځته کیدو په حال کې ده، چې د لویدیځې نړۍ سیاستوال دغه حالت د خپلو هیوادونو اقتصادي ودې ته یو ستر ګواښ بولي.

په دغو اومه توکو کې، تیل او ګاز تر ټول مهم او با ارزښته ګڼل کیږي. اتریشي څانګیز پوه او د اروپایي ټولنې په پارلمان کې د دغه هیواد استازی، هانس کرونبرګر Hans Kronberger په خپل نامتو اثر " وینه د تیلو په بدل کې" دغه ارزښت ته داسې نغوته او په دې باب لیکی: "تا وقتیکه اقتصاد جهانی وابسته به نفت و گاز است، تا همان زمان دلیلی برای جنگ در بطن نظام ها وجود دارد. با موجودیت سه منطقهٔ بحرانی، یعنی خلیج فارس، افریقا و اطراف بحیرهٔ کسپین، هزارهٔ سوم در حالی آغاز میشود، که آثار نا خوش آیند زورگویی قدرت ها، هر لحظه میتواند عواقبی وخیم و غیر قابل پیش بینی در بر داشته باشد (بهاند، شریف، ۲۰۰۷ ، مخ، ۲ ـ ۳). نو څکه د دغو توکو د پاتې زیرمو د لاسته راوړو له پاره نوې ټلوالې جوړې، کړکیچونه، چې ان د جګړې بنه یې غوره کړې ده، رامنځته شوي دي. باید یادونه وشي، چې اوسمهال د نړۍ په بیلا بیلو برخو کې د اومه توکو د زیرمو د لاسته راوړلو پر سر د نورو هیوادونو تر څنګ تر ټولو دمخه د متحدو ایالتونو، هند، روسیې او چین تر منځه په ښکاره او پټه توګه مبارزه روانه ده.

نو اړینه برېښي، تر هر څه دمخه دا راوسپړل شي، چې د دغو مهمو او با ارزښته توکو، تیلو او ګازو او همدارنګه د نورو توکو لکه یورانیم، مس، پلاتین، سرو زرو، سپینو زرو، اوسپنې، د ډبرو د سګارو، کوبالت Kobalt، ګرم Chrom ، سربو، جستو، قلعی او د تیتانیمو زیرمې د نړۍ په کومه برخه کې او د هغوي پاتې ونډه څومره ده؟ سربیره پر نومول شوو هیوادونو د کومو نورو هغو او نړیوالو ټلوالو تر منځه د هغوي پر سر مبارزه روانه ده؟ او د دغو مبارزو پایلو پر نړیوال نظام او همدارنګه د پرمختیایي هیوادونو په سیاسي ـ اقتصادي او پوځي وضعې څه ډول اغیز کړی دئ؟ ایا د افغانستان د اوسني کړکیچني وضعې لامل د افغاني ټولنې له اقتصادي، سیاسي او ټولنیز وروسته پاتې والې څخه سرچینه اخلي؟ او یا دا چې د هغه لامل د هیواد ستراتیژیک پریوت او که د اومه توکو پر پاتو زیرمو د واکمنې پر سر مبارزه کې نغښتی دئ؟ د دې پوښتنو د ځواب له پاره تر ټولو دمخه اړین برېښي، چې د اوسنیو جګړو هڅونکې لاملونه وڅیړل شي.

**جګړه هڅونکي توکي:**

په نړیواله کچه ځینې هیوادونه له اقتصادي، سیاسي او پوځي پلوه د متحدو ایالتونو د دولت او د هغه د اروپایي ټلوالې او دغه دواړه بیا د نورو سترو اقتصادي او پوځي ځواکونو کره وړه په ډیر ځیر سره څاري. د دغو هیوادونو په اند د متحدو ایالتونو کره وړه په ستونزمنو سیمو لکه افریقا، منځنې ختیځ، منځنۍ اسیا او همدارنګه د ارام سمندر په شأ و خوا او د نړۍ په ځینو نورو برخو کې یو وزری عمل نه، بلکې له یوې هر اړخیزې او اوږدمهالې ستراتیژۍ څخه سرچینه اخلي، چې موخه یې پر ستراتیژیکو سیمو، د نومول شوو اومه توکو په طبیعي زیرمو او په تیره د تیلو او ګازو په هغو واکمنې او همدارنګه په نل لیکو یې کنټرول دئ. څکه له یوبخوا د طبیعي زیرمو نا انډوله ویش او له بلې خوا د هغوي کمیدل او د بیې لوړیدل له هغو مهمو لاملونو څخه ګڼل کیږي، چې ستر ځواکونه، په تیره په اوس وخت کې خپلې د ملی امنیت ستراتیژۍ د هغو پر بنسټ طرحه کوي. څکه د جیوپولیتیک پر بنسټ لکه د تیرې پیړۍ په څیر، په یوویشتمه پیړۍ کې هم برلاسه ځواک، هغه هیواد او یا د هیوادونو هغه ټلواله ده، چې پر طبیعي او په تیره بیا د فسیلي انرژۍ پر زیرمو په پشپړه توګه واکمنه وي. د تیلو او ګازو دغه ارزښت ته دانیل یورګین داسې نغوته او وایي، چې په اوسنۍ نړۍ کې: ګاز او" تیل د صنایعو پر مخ وړونکې ځواک او د تمدونونو د غوړیدو مهمه وسیله بلل کیږي" (Spiegel spezial, 2006. S. 10 ).

د کامپبل Campbell د ليد له مخې، د نړۍ د تيلو د زيرمو په سلو کې له اتياوو څخه زياته برخه په دوو کمربندونو کې پرته ده. له هغو څخه يو يې زموږ د ګړې په لويديځه برخه کې له الاسکا څخه پيل د کانادا له البرتا او د متحده ايالتونو له منځني او لويديځي برخي څخه تير، بيا تر مکسيکو او ونزويلا پورې رسيږي، چې د تيلو دغه برخه څه نا څه په بشپړه توګه د لويديځې نړۍ په واک کې ده. دوهم کمربند د روسيې د فدراسيون له شمال، سايبريا څخه پيل د کسپين له سمندرګي څخه تير د منځني ختيځ په لورې ان د افريقا تر شمالي برخي پورې غځيدلی دئ (وګورې: Reserven, Ressourcen und … , 1995, S. 7 )، چې د دغه کمربند ځينې برخې د سيالو هيوادونو زمکنی بشپړتيا او ځينې د هغو کړکيچنې سيمې بلل کيږي. د تيلو د زيرمو پاتې شل په سلو کې په نايجيريا، انګولا، سودان، چين، هند او ناروی ته څيرمه په شمالي سمندر کې دي. د ګازو ستري زيرمې په ختيځي او لويديځي اروپا، هم ګتو هيوادونو (پخواني شوروی اتحاد)، منځني ختيځ، افريقا، شمالي امريکا، لاتينه امريکا او استراليا کې دي، چې لاندنی جدول د زيرمو پريوت، ونده، د هغوی توليدونکي او لګښت کونکي هيوادونه په ښه توګه روښانه کوي:

په کال ۲۰۰۰ کې د نړۍ د فسيلي انرژۍ لګښت کونکي، توليدونکي او د هغې د زيرمو پريوت شمېرنې د سلمې له مخې

| تيل | | ګاز | | د ډبرو سکاره | |
|---|---|---|---|---|---|
| ستر لګښت کونکي هيوادونه | | ستر لګښت کونکي هيوادونه | | ستر لګښت کونکي هيوادونه | |
| متحده ايالتونه | ۲۵،۶ | متحده ايالتونه | ۲،۲۷ | متحده ايالتونه | ۲۵،۸ |
| جاپان | ۷،۲ | پخواني شوروی اتحاد | ۲۲،۸ | چين | ۲۲،۰۰ |
| چين | ۶،۵ | منځني ختيځ | ۷،۹ | پخواني شوروی اتحاد | ۸،۰۰ |
| المان | ۳،۷ | بريتانيا | ۴،۰۰ | هند | ۷،۵ |
| | | المان | ۳،۳ | جاپان | ۴،۵ |
| | | | | المان | ۳،۸ |
| **د نړۍ پاتې هيوادونه** | **۳۴،۵** | **د نړۍ پاتې هيوادونه** | **۳۴،۵** | **دنړۍ پاتې هيوادونه** | ۲۸،۴ |
| ستر توليدونکي هيوادونه | | ستر توليدونکي هيوادونه | | ستر توليدونکي هيوادونه | |
| منځني ختيځ | ۳۱،۰۰ | پخواني شوروی اتحاد | ۲۷،۸ | متحده ايالتونه | ۲۶،۷ |
| پخواني شوروی اتحاد | ۱۱،۰۰ | متحده ايالتونه | ۲۲،۹ | چين | ۲۳،۳ |
| متحده ايالتونه | ۹،۸ | منځني ختيځ | ۸،۷ | پخواني شوروی اتحاد | ۹،۳ |
| مکسيکو | ۴،۸ | کانادا | ۶،۹ | هند | ۷،۲ |
| چين | ۴،۵ | بريتانيا | ۴،۵ | سوېلي افريقا | ۵،۵ |
| ناروی | ۴،۴ | | | پولند | ۳،۲ |
| **د نړۍ پاتې هيوادونه** | **۳۴،۵** | **د نړۍ پاتې هيوادونه** | ۲۹،۲ | **دنړۍ پاتې هيوادونه** | ۲۴،۸ |
| د نړۍ د سترو زيرمو پريوت | | د نړۍ د سترو زيرمو پريوت | | د نړۍ د سترو زيرمو پريوت | |
| منځني ختيځ | ۶۵،۳ | پخواني شوروی اتحاد | ۳۷،۸ | متحده ايالتونه | ۲۵،۱ |
| ونزوويلا | ۷،۳ | منځني ختيځ | ۳۵،۰۰ | پخواني شوروی اتحاد | ۲۳،۴ |
| پخواني شوروی اتحاد | ۶،۴ | افريقا | ۷،۴ | چين | ۱۱،۶ |
| متحده ايالتونه | ۲،۸ | اسيا / استراليا | ۶،۸ | هند | ۷،۶ |
| | | متحده ايالتونه | ۳،۲ | المان | ۶،۸ |
| **د نړۍ پاتې هيوادونه** | ۱۸،۲ | **د نړۍ پاتې هيوادونه** | ۹،۸ | **دنړۍ پاتې هيوادونه** | ۲۵،۵ |

اخځ:

Agenda 21: Fossile Energie, in: Die Zeit, Nr.: 42 / 11. 10. 2001, S. 23

د انرژۍ د نړيوالي اداري او د برتيش پتروليم BP د تيلو د کنسرني نوي رپوټونه د نړۍ د هغو د مطمينو زيرمو پريوت او د دغو توکو لګښت کونکي د بيلا بيلو سيمو پر بنسټ لا په ښه توګه روښانه کوي.

په کال ۲۰۰۵ کې د نړۍ د بیلا بیلو سیمو د تیلو او ګازو مطمینې زیرمې او د هغوې لګښت

| سیمې | تیل میلیارد بیرله[1] | ګاز په بلیون مکعب متره | د تیلو ورځنی لګښت[2] په میلیونو بیرلو |
|---|---|---|---|
| **شمالي امریکا** | ۲۱۳ | ۷ | ۲۵ |
| **منځنی او سویلی امریکا** | ۱۰۳ | ۷ | ۵ |
| **لویدیځه اروپا** | ۱۵ | ۵ | ۱۵ |
| **ختیځه اروپا او پخوانی شوروی اتحاد** | ۷۹ | ۵۵ | ۵ |
| منځني ختیځ او شمالی افریقا | ۷۹۸ | ۸۰ | ۶ |
| **افریقا** | ۴۸ | ۶ | ۲ |
| **اسیا** | ۳۶ | ۱۱ | ۲۳ |

۱ ــ هر بیرل ۱۵۹ لیتره

۲ ــ د تیلو دغه ورځنی لګښت په کال ۲۰۰۴کې دئ.

اخځ:

Spiegel spezial, Das Magazin zum Thema Kampf um Rohstoffe, Nr. 5/2006, S. 8-9

باید وویل شي، چې د شمالي امریکا د ۲۱۳ میلیاردو بیرلو تیلو د زیرمو له ونډې څخه د هغې ۱۷۹میلیارده بیرله په کانادا، ۲۱ میلیارده بیرله په متحدو ایالتونو او ۱۳ میلیارده بیرله په مکسیکو کې دي او د دغې سیمې له تولیز لګښت، د ورځې ۲۵ میلیونه بیرله، یوازې د متحدو ایالتونو ورځنی لګښت ۵ ، ۲۰ میلیونه بیرله دئ. همدارنګه د ارواسیا او د شمالی افریقا د سیمو د تیلو د مطمینو زیرمو ونډه په تولیزه توګه ۷۸۶ میلیاردو بیرلو ته رسیږي، چې له دغې شمېرنې څخه ۸ میلیارده بیرله په ناروی، ۶۰ میلیارده بیرله په روسیې، ۹ میلیارده بیرله په قزاقستان، ۷ میلیارده بیرله په اذربایجان، ۲۶۷ میلیارده بیرله په سعودي عربستان، ۱۳۲ میلیارده بیرله په ایران، ۱۱۵ میلیارده بیرله په عراق، ۱۰۴ میلیارده بیرله په کویت، ۹۸ میلیارده بیرله په عربی اماراتو، ۳۹ میلیارده بیرله په لیبیا، ۱۵ میلیارده بیرله په قطر، ۱۱ میلیارده بیرله په الجزایر او ۵ میلیارده بیرله په عمان، ۱۸ میلیارده بیرله په چین او ۶ میلیارده بیرله په هند کې دي ( وګوری Spiegel spezial, 2006. S. 8-9). په داسې حال کې چې د دغې سیمې د تیلو تولیز لګښت د ورځې ۴۹ میلیونو بیرلو ته رسیږي، چې له دغې جملې څخه د المان ورځنی لګښت ۶ ، ۲ میلیونه بیرله، د چین ۷ ، ۶ میلیون بیرله، چاپان ۳ ، ۵ میلیون بیرله او د هند ورځنی لګښت ۶ ، ۲ میلیونه بیرله دئ.

د انرژۍ د نړیوالې ادارې د محاسبې له مخې د نړۍ د وګړو د تیلو لګښت په کال ۲۰۰۵ کې، د ورځې ۸۳ میلیونه بیرله و، چې دغه لګښت به په کال ۲۰۱۰ کې د ورځې له ۹۰ میلیونو بیرلو زیات وي او په کال ۲۰۳۰ کې به څه نا څه د ورځې ۱۱۵ میلیونو بیرلو ته ورسیږي ( وګوری Spiegel spezial, 2006. S. 10). له پورتنیو شمېرنو دا پایله تر لاسه کوو، چې د اوراسیا سیمه د انرژۍ د زیرمو له پلوه، تر ټولو بډایه، مهمه او د پام وړ سیمه ګڼل کیږي.

خو اوسنی تخنیکی او صنعتی انقلاب د فسیلي انرژۍ تر څنګ نورو طبیعي توکو ته هم اړتیا لري. د ساری په توګه الکترونیکي او د ودانیو جوړولو صنایع مسو او اوسپنې ته، د فولاد جوړولو صنایع د نورو تر څنګ اوسپنې ته، د اتومي وسلو او د بریښنا د تولید صنایع یورانیمو ته، د الوتکو صنایع د نورو تر څنګ المونیمو ته، د فولادو، بتري او کیمیاوي صنایع جستو ته، ... او داسې نور. لاندنی جدول د نړۍ د دغو شتمنیو د زیرمو په پریوت او بیې په بنه توګه رڼا اچوي:

د فلزي توکو د زیرمو پریوت او د هغو بیه

| فلزي توکي | د سترو زیرمو پریوت | د هر ټن بیه په ډالر |
|---|---|---|
| سره زر | اندونیزیا، سویلی افریقا، استرالیا، روسیه، ارجنتاین | ۶۲۶ • |
| سپین زر | استرالیا، مکسیکو او پیرو | ۱۲ ، ۹۸• |
| پلاتین | سویلی افریقا، کانادا،روسیه او متحده ایالتونه | ۱۲۳۱ • |
| اوسپنه | برازیل، استرالیا، سویلی افریقا، چین او سویدن | ۷۷ ، ۳۵ |
| کرُم | سویلی افریقا، قزاقستان او هند | ۱ . ۴۹۹ |
| نکل | کانادا، روسیه، استرالیا او کیوبا | ۲۴ . ۰۰۰ |

| | | |
|---|---|---|
| کوبالت | د کانکو د.ج.، استرالیا، کیوبا او کانادا | ۳۱ . ۳۰۶ |
| مس | چلی، پولند، متحده ایالتونه او اندونیزیا | ۷ . ۵۰۰ |
| سرب | متحده ایالتونه، کانادا، استرالیا او ایرلند | ۹۹۹ |
| جست | متحده ایالتونه، کانادا، استرالیا او ایرلند | ۳ . ۳۷۲ |
| قلعی | چین، برازیل،اندونیزیا، بولیویا او پیرو | ۸ . ۴۰۰ |
| المونیم | استرالیا، گونیا، برازیل، جیمایکا او روسیه | ۲ . ۵۵۶ |
| تیتانیوم | استرالیا، سرلیونو، سویلی افریقا او موزامبیق | ۲۹ . ۰۰۰ |
| یورانیم | کانادا، استرالیا، نیجر او نامیبیا | ۱۰۱ . ۴۱۰ |

● د هر یو سوچه انس ۱ ،۳۱ گرام بیه ده.

اخځ:

Spiegel spezial, 2006.. Nr. 5/ 2006, S. 52-56

د نوموړو توکو له دغو سترو زیرمو سربیره، د هغو د پام وړ زیرمي د نړۍ په نورو هیوادونو کي هم شته دي، چي بني بیلګي یي په اسیا کي ازبکستان او قزاقستان د نورو توکو تر څنګ د یورانیمو او سروزرو، تاجیکستان د سپینو زرو، افغانستان د ګازو، مسو، اوسپني، زمردو او د لاجوردو، د افریقا په وچه کي ګابون، انګولا، کنګو برازاویل، چاد او کامرون د تیلو د زیرمو او همدارنګه سودان، نامیبیا، سویلي افریقا، موزامبیق او تانزانیا د ګازو د زیرمو له امله د پام وړ هیوادونه دي. نو ځکه د دا ډول سیمو د تر کنترول راوستلو له پاره د نړۍ ستر ځواکونه په هغو کي لاسوهنه کوي. د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو پخواني وزیرې، مادلین البرایت د لاسوهنو په اړه ویلي: " لاسوهنه له دي سره تړاو لري، چي یوه سیمه له ستراتیژیک پلوه څومره د ارزښت وړ ده" ( Jürgen Wagner / Andreas Seifert, S.1).

پاتی نور بیا